___/___/202        Day:______

# پرچه : پښتو

## جواب نمبر ۵ :

## ده خوشحال خان خټک په ژوند او شاعری باندی بحث

### تعارف :

پښتو ژبه یوه ډیره زړه ژبه ده. د پښتو ژبې د ترقۍ دپاره خوشحال خان خټک ډیرې حلې ځلې کړې دی. د خوشحال خان خټک په پښتو ژبه ډیر غټ احسان دی. څنګه چې خوشحال خان خټک په خپله شعر کړي وای

ځکه د نظم که د نثر که د خط دے په پښتو ژبه مې حق دے. بې حسابه نه په خوا بکې کتاب و نه یې خط و دا دے ما پکې تصنیف کړل څو کتابه

لیکلي

د دې شعرونو نه د خکاره شوه
چې د خوشحال خان خټک پښتو ژبې د باره
ډېر کار کړی دی.

## د خوشحال خان خټک ژوند

خوشحال خان خټک په 1022 هجري کښې
په دې دنیا کښې سترګې رڼې کړې وې
خوشحال خان خټک د شهباز خان ځوی و.
شهباز خان د مغلو منصب دار و. ټپلس به
په ورله راتلولو. د یوسفزو سره یې
دښمني وه. د خوشحال خان خټک پلار په
یو جنګ کښې د دې دنیا نه سترګې پټې کړې
د پلار منصبداري او دښمني وارې خوشحال خان
ته پاتې شو. خوشحال خان خټک ښخیله په
منګه ځان رابیژني په دې ډول.

زه خوشحال د شهباز خان یم چې تورزن یم کال په کال
شهباز خان د یحیی خان و چې بل نه و حسې ځوان
یحیی خان د اکوړي و چې بل په توره شو سلطان
د هجرت زر دو یشت سن و چې زه راغلم
په جهان

هم دغه شان خوشحال خان ځکله په منګله ځان راپیژندلے وه.

خوشحال خان خټک په خپل ژوند کښې د ښکار او مېنې سره شوق کړو.

خوشحال خان خټک په سه وجه اورنګزیب عالمګیر پاچا بندي کړو. پینځه کاله خوشحال خان خټک په رتنبور کښې بندي و.

## د مغلو دپاره ما توري وهلې
## پښتنو به راته کړې ډېرې کنځلې

په دی شعر کښې خوشحال خان خټک د مغلو دپاره ده خپلې حلو ځلو ذکر کړه دی

## د جیل نه پس د خوشحال خان ژوند:

په جیل کښې د خوشحال خان خټک زړه د غم نه او ذهن د فکر نه ډک شو او وایل یے.

سو پس له بنده دے د عزم
د خوشحال د خاطر جزم
یا نیوے ځو ځکے ته
یا مغلو سره رزم

# د خوشحال خان خټک شاعري:

د خوشحال خان خټک په شاعری کښی هر رنګ رپوټ دے. خوشحال خان خټک د قامی شاعری، رزمیه شاعری، عشقیه شاعری او اخلاقی شاعری سره مینه کړله -

## رزمیه شاعری:

خوشحال خان خټک د ډیر اول نه د ښمنو سره اخته شوی او -

لا تر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي
چاچې ماسره وهلي سر په خټک دي

په دی شعر کښی خوشحال خان خټک وایي چه کوم انسان هم ځما مقابله کړی ده په جنګ کښی نو هغه انسان ماغزه اوس هم په قرار شوی نه دی. تر اوسه په زخمونه نه دی تهیک شوی. هم دغه شان خوشحال خان خټک په دی شعر کښی خپل طاقت ظاهر کړه دی چې ائما د مقابلے خلک اوس هم په خپل غم اخته دی:

---/---/202 Day:-----

## ٥ د افغان په ننګ مې وتړله توره
## ننګیالي د زمانې خوشحال خټک شوم

په دې شعر کښې خوشحال خان خټک وای چې ترڅو چې ما د افغان په غیرت او د پښتو دپاره چلې ځلې شروع کړې او توره مې استعمالول شروع کړل نو داسې مې د پښتو غیرت او ننګ محفوظ کو چې په ټوله زمانه کښې ننګیالي شوم او مشهور شوم.

## قامي شاعري:

د خوشحال خان خټک قام دپاره هم ډیر مشهوره شاعري کړې ده.
خوشحال خان خټک په دې شعرونو کښې د خپل قام سره مینه ظاهره کړې ده او په اتفاق سره ژوند کولو خودنه یې کړې ده.

٥ اتفاق په پښتو کښې پیدا نشو
کنې ما به د مغلو ګریوان پاره کړه

په دې شعر کښې خوشحال خان خټک

د افسوس اظهار کوي چې په پښتو کښې اتفاق نشته ځکه پښتانه د مغلو نه اوروسته دي او مغل چې حکمراني کوي. خوشحال خان خټک وايي چې که چرته په پښتو کښې اتفاق پيدا شو نو د مغلو حکومت به پښتو ته بدل شي. خوشحال خان خټک وايي چې که چرته په دې پښتو کښې اتفاق او نو ما به مغلو له شکست ورکړه وي او حکومت به مې ترې ترلاسه کړه وي خو پښتو کښې اتفاق نشته

## اخلاقي شاعري:

خوشحال خان خټک د پښتو لپاره اخلاقي اصلاح اړينه ګڼي هم شاعري کړې ده او پښتو ته يې نصيحت کړې ده په خپله شاعري کښې.

سو چې د خلقو نيک خواهي لري په زړه کښې
مبارک شه بادشاهي لري په زړه کښې

په دې شعر کښې خوشحال خان خټک وايي چې کوم انسان د بل انسان سره د نيکۍ

جذبه لري په زړه کښې نو هغه کس له خوشحال خان خټک مبارکي ورکوي چې دا سړی په زړه باچا دی - هم دغه شان خوشحال خان خټک پښتو له پیغام ورکړه چې د یو بل سره مرسته کوي او ښیګړی کوي ځکه دا ډېره غټه باچاهي ده.

## خلاصه:

خوشحال خان خټک ډېر عظیم شاعر و او د پښتو ژبې لپاره یې ډېرې حلې ځلې کړې وې خوشحال خان په پښتو او په پښتو ژبه مین شاعر و همیشه یې د پښتو د اتفاق راوستو کوشش کړی دے د خوشحال خان شاعري پښتنانه ډېره ~~خوښه~~ خوښه وي او سبق ترې حاصلوي. خوشحال خان خټک په کال ۱۱۰۰ هجرۍ کښې د دې دنیا نه سترګې پټې کړې دي او ترا اوسه د پښتو په زړونو راج کوي.

# جواب نمبر-8

## پښتانه څوک دي

## تعارف:

پښتانه ډېر غیرتي قوم دی
د پښتو تاریخ ډېر پښتواني د. پښتو خپل
تاریخ پخپله نه دی لکلي. پښتانه ډېر
زوړ تاریخ لري. په دی سوال کښی به منګه
د پښتو د تاریخ په اړه خبری کوو.

## ده پښتو تاریخ:

پښتو خپل تاریخ پخپله نه دی لکلی
پښتو لوستلو نه دکړی. د پښتو تاریخ لپاره
به منګه ډېری تاریخ کورو او ډېری تاریخ
ډېري شکل لري.

## ده پښتو تاریخ نظریې:

د پښتو تاریخ باره
کښی ډېرې نظریې مشهوری دی. سوک وایي چې

پښتانه بني اسرائيل دي اور سوک
وايي چې پښتانه اریان دي خو د پښتو
ډېر شاعران او مشهور کسان د بني اسرائيل
د نظريې طرف کوي.

## پښتانه بني اسرایل دي:

ده دے نظرے

په ویدا پښتانه اصل کښې بني اسرايل دي.
خوشحال خان خټک په خپل شعر کښې وايي.

له په ښایست بانړی په ختمه داودیاده
چې په اصل د یعقوب قوم او تبار دي

په دی شعر کښې خوشحال خان خټک
ده پښتو ښایست د بني اسرایلو سره
یوشان گڼلہ دي او وی چې
پښتانه اصل کښې بني اسرایل دي.

## نعمت الله هاروي

نعمت الله هاروي په خپل کتاب

تاریخ خان جهاني کښې مخزن افغاني کښې وايي
چې پښتانه اصل کښې بني اسرائيل دي. د
پښتنو سالار طالوت دی جنګ ته د ځلو پښتو زامنو
سره لاړو. داود ته يې اوويل چې زما په زامنو
به ارميه او برخيه نومونه کيږدي. د
ارميه زوی افغنه و د سليمانؑ فوج کښې شامل
شو. افغنه د ځلو پښتو زامنو سره راغلو افغانستان
ته

## پښتو کښې قيس پيدا شو:

قيس په پښتو کښې پيدا شو. د هغه وخت
د پښتنو مشري قيس سره و. فتح مکه کښې يې
ګډون کړی و. خالد بن وليد خپله لور سحرا
په نکاح ورکړه. رشيد لقب ورته ميلاو
شوی و د نبي کريمؐ نه.

## کوم کسان د هغه نظريه مني:

د پښتو ډير مشهور شاعران او مشران
دا نظريه مني. خوشحال خان خټک،
افضل خان خټک، نعمت الله هروی،

___/___/202 Day:______

سید عبدالجبار دا تمول کسان دا نظریه منی

خلاصه:

د پښتنو تاریخ ډیر ځکاره نشته ځکه چې پښتنو خپل تاریخ نه دی لیکلی. دبرړی تاریخ کښې د پښتنو تاریخ شته دی خو دګرړی تاریخ دبرړی اوبین لری. د پښتنو تاریخ باره کښې ډیرې نظریې مشهورې دی خو ډیر خلک د بنی اسرایل نظریې له اهمیت دی خوشحال خان خټک په خپل شعر کې ظاهر کړی او نعمت الله هاروی په خپل کتاب تاریخ خان جهاني مخزن افغاني کښې ظاهر کړی دی چې پښتانه بنی اسرایل دی.

جواب نمبر۔ 6

# د رحمان بابا شاعری او تاریخ

تعارف:

رحمان بابا د پښتو ډیر معروف
شاعر تیر شوی دی، رحمان بابا په هم
1066 هجری کښی په پیښور (بهادر کلے)
کښی ستر ګکي رڼړی کړی وی۔ رحمان بابا
په خپله شاعری کښی پښتو ته ډیر نوی نصیحت
کړی وی۔ رحمان بابا د پښتو ډیر مقبول
شاعر دی. خلک د رحمان بابا شاعری ډیر
په شوق سره وائی او سبق او مزه تری اخلي۔
رحمان بابا په پښتو او په پښتو مین شاعر
او۔ ده رحمان بابا په شاعری کښی د الله
او د رسول مینه هوم سرکنده شوی ده۔ رحمان
بابا په الله او د هغه رسولؐ سره مینه په
خپل شعرونو کښی را نغولی۔ رحمان بابا ډیره
درنه او د سبق او نصیحت نه ډکه شاعری
د پښتو لپاره کړی ده۔ رحمان بابا په 1118
کښی ده دی دنیا نه سترګکي پټي کړی دی۔

___/___/202 Day:______

## ده رحمان بابا کتابونه:

رحمان بابا پښتو لپاره ډیر کتابونه لیکلي دي.

- پښتو ته دیوان
- ټولنیز تربیت

دا ده رحمان بابا ډیر مقبول کتابونه دي کوم کښې چې پښتو لپاره سبق او نصیحت دروت دي.

## ده رحمان بابا شاعري:

۱، صوفیانه شاعري:

رحمان بابا په الله او ده الله په رسول مین شاعر او۔ خپله شاعري د کښې به يي دا مینه سه په دی ډعول بیانوله

۲. که صورت ده محمد نه وي پیدا
پیدا کیږي به خدای نه وي دا دنیا

په دی شعر کښې رحمان بابا ده محمدؐ ده

شان او عزت په باره کښې وېئي چې ده
رسول الله ﷺ شان دومره اوچت او چې الله
تعالی ده هغه لپاره دا ټوله دنیا پیدا کړې
ده که چرته محمد ﷺ نه وی پیدا شوی په دې
دنیا کښې نو الله تعالی به دا دنیا هم نه
وه پیدا کړې.

تو عجب نه ده چې دا درست جهان زما شی
چې د درست جهان بادشاه مې دی مولا

په دې شعر کښې رحمان بابا ده الله
تعالی وړاندې دخپلې بندګۍ ذکر کوی
چې الله تعالی ده دې ټول جهان بادشاه
دی. دا ټوله دنیا الله تعالی پیدا کړې
او الله تعالی زما مولا دی. نو رحمان بابا
وائي چې ډېره عجیبه شان خبره ده چې
دا درست جهان زما شی ذکه چې ده دې
درست جهان چې کوم بادشاه دی هغه
زما مولا دی.

## روزمره شاعري:

رحمان بابا روزمره شاعري
سره په دې ډول بیانه کړې ده.

نو چې الله درسره مل نه وي رحمانه
که لښکري درسره وي یک تنها یې

په دې شعر کښې رحمان بابا یو ډېر لوی نصحیت کړی دی پښتنو ته. ده یو حقیقت په توګه رحمان بابا بیان کړی چې کوم انسان سره الله نه وي ملګری الله سره چې تعلق نه وي جوړ کړه نو که سومره هوم ملګري ور سره شي او رحمان سره لښکری هوم ملګري کړي نو دا انسان یوازی او تنها دی.

نو هر زنده چې ده مړه په قبر ور شي
ده مره بس دي نصحت په دې دنیا

په دې شعر کښې رحمان بابا یو لوی نصحت کړی دی پښتنو ته چې

هر زنده چي په دنیا کښي ژوند کوي
دا به یو نه یو ورځ (ه) دي دنیا نه
سترګي ~~پټه~~ پټوي نو ځکه له بکار دي
چي ده اخرت تیاري وکړو. هر انسان
لپاره (ه) دي نه بل لوی نصیحت نشته
چي هغه ده بل زنده په قبر ورشي او
اوګوري چي څنګه دا انسان (ا) دي دنیا
نه رخصت شوی دا سی به مونږ ټول رخصتیږو

## خلاصه:

رحمان بابا د پښتو یو ډیر لوی
شاعر تیر شوی دی. ده رحمان بابا
شعري شاعري ته ډیر مقبولیت حاصل
دی - ده رحمان بابا شاعري خلک ډیر
په شوق سره لولي او نصیحت تري
حاصلوي - رحمان بابا ده ژوند په هر
اړخ شاعري کړي ده او پښتو ته یي
نصیحت کړي دي - رحمان بابا په رسول مین
شاعر وو او په خپله شاعري کښي یي
هم دا رسول سره (مینه) ذکر کړي دي.